## س: ټپه څه ته وائي:-

ټپه د اولسي ادب یو اهم او زړه پورې صنف دی۔ ټپه په ویلو سره اواز ټیټ شي په دې وجه دې ته ټپه وائي۔ ټپه د غمجنو زړونو ټپار دی۔ چې کله پښتانه یو بل سره بحث کوي او په هغې کښې وائي چې ثبوت وړاندې که نو په هغه وخت کښې د ثبوت په طور ټپه ویلې کیږي او هم په دې وجه د پښتون قام د ژوند هنداره ګڼلې شي۔

په ټپه کښې همیشه دوه مصرې وي چې یکښې یوه اولنۍ مصره لنډه وي او دوېمه مصره یکښې اوږده وي او هم په دې وجه دې ته لنډۍ هم وائي۔

## د مثال په طور یو څو ټپې:-

په تور لیمو کښې یې نارې کم
زه د دنیا نه ارماني راغلې یمه

ځا پانیره ورته لوګي وابې
زما ګناه په جانان بد راغلې دینا

جانان د مور او پلاره یو دی
زه که مې او نیکي د ناز بیښو سترګو زیږمه

سړي په نوم نه سړي کیږي
سړي هغه دي چې ئې کار د سړو وینه

ما لا د خپل زړه خپښتي بنیاد دی
ترشناره پورې قلفي راسره وینه

که په شبو باران وریږي
نه حسینه ځا په خپل جانان باور دې رالیښمه

زړهٔ مې سوري وينې ترې ساس
د غم چړې چنې پکښې چالې جوړېږه.

د دې برو ذکر شوي ټپونه د ظاهره شوه چې پښتون قام په ژوند کښې څه قسم حالاتو سره مخ شوي تو په دغه موقعه ئې ټپې ويلي دي ځکه ورته د پښتون قام د ژوند هنداره ويلې شي.

* * *

س: د خوشال بابا ژوند:

خوشال خان بابا پوره نوم خوشال خان خټک دی کوم چې په سرائې اکوړه کښې د شهباز خان کره په 1022 هجري کښې زېږېدلی وو. دا يو نابغهٔ روزګار او همه ګير شخصيت وو. خوشال خان بابا يو عالم، شاعر، اديب وو. د جنګ و رباب سره ئې هم مينه وه او قلم ئې هم په ډېر مهارت سره استعمال کړې. خوشال خان بابا د تورو په سوري کښې پيدا شوې وو او هم د تورو په سورې کښې لوې شوې وو. شهباز خان د مغلو له طرفه د خټکو خان وو. کله چې شهباز خان وفات شولو د مشرۍ لنګۍ پګړۍ د خوشال خان بابا په سر شوه او د مغلو منصب دار شو. بيا د يو صوبېدار په وېنا اورنګزيب بادشاه په مختلفو جېلونو کښې وساتلو چرته ئې چې زړهٔ د مغلو نه او سر د فکرونو ډک شو دغه وخت کښې د مغلو او پښتنو خپلو مېنځ

کښې تعلقات خراب شو نو خوشحال بابا به د ایمل خان مومند او دریا خان اپریدي په ملګرتیا د مغلو سره په جنګ ولاړ او ترڅو لکه چې وائي:

د افغان په ننګ مې وتړله توره
ننګیالی د زمانې خوشحال خټک یم

## د خوشحال خان خټک د شاعرۍ اړخونه:

د خوشحال خان بابا د شاعرۍ اړخونه (شاعرۍ) څلور دي:

1) قامي او وطني شاعري
2) اخلاقي شاعري
3) رزمیه شاعري
4) عشقیه شاعري

## 1 وطني شاعري:

وطني شاعري د خوشحال خان خټک د شاعرۍ ډېره اهم برخه ده۔ ده په قامي شاعرۍ کښې له یو خوا د پښتنو د ترون او معاشرتي ژوند حالات او خوبیانې بیان کړي نو بل خوا ئې د هغوي د کردار خرابۍ هم بیان کړي او د ټیک کولو کوشش ئې کړی۔ خوشحال بابا د پښتنو د اتفاق ډېر غوښتونکی و او کوشش ئې کړی چې دوی کښې بې اتفاقي ختمه کړي۔ لکه چې وائي:

که هر څو د پښتنو نر مغل خه ده
اتفاق ورسره نشته ډېر ارمان
که توفیق د اتفاق پښتانه مومي
زوړ خوشحال به دوباره شي په دا ځوان

په دې شعرونو کښې خوشحال بابا وائي چې افسوس
پښتو کښې اتفاق نشته او وائي چې که پښتو کښې
اتفاق راشي نو زه به ډېر خوشحاله شم او دوباره به
ځوان شم.

نه د رسن پښتون له قندهاره تر اټکه
سره یو د ننګ په کار پټ او ښکار
نه امیري مرد شیرازي ګوره ځه له
د مغلو لښکر پروت په ننګرهار

یو بل ځای کې وائي:

د پښتانه واړه بدخوي دي
کور په کور قانري نوروزي
یو چې سر قانري په پوره
بل ئې وهي څغزي

## ۲. اخلاقي شاعري:

خوشحال خان بابا اخلاقي شاعري هم موجود
ده ځکه چې ده د پښتون قام ته د مسلسل جدوجهد
او مصیبتونو سره د مقابلې درس ورکړی دی او اخلاقیاتو
په هر اړخ ئې خیال او فکر کړی دی. خوشحال بابا د دروغو
خلاف هم داسې لیکه چې وائي:

چې دروغ تر خولې او باسي قلم خوله ده
چې رښتیا تر خولې او باسي خوله هغه ده

په دې بره شعر کښې خوشحال بابا هغه خوله او
خوله نه ګڼي کوم چې دروغ وزي.

خوشحال بابا د منت ـ کولو هم خلاف دی لکه چې وائي:

سه د منت دارو لګه مرم پکار مې نه دي
که علاج لره مې راشي مسیحا هم

خوشحال بابا هغه انسان دی چې پر خو شفقت کښې کم چې
د خدائي مخلوق سره خه سلوک او نېکخواهي کوي
او د خوش نصیبه شته ئې ګڼي لکه چې وائي:

چې د خلقو نېک خواهي لري په زړه کښې
مبارک شه بادشاهي لري په زړه کښې

لوخوا که خوشحال بابا کامیابي او کامراني په کوشش
کښې لټوي نو بل خوا د خپل عزم او ارادې په مضبوط
شخصیت دي د ملکي ارادې باره کښې داسې وائي:

د نر مطلوبه لوري شرط د رسېدو دي
که تمامه لاره په وینو شي الوده.

## 3 د خوشحال بابا رزمیه شاعري:

رزمیه شاعري د خوشحال خان خټک د شاعرۍ
هغه اړخ دي چې کوم کښې خوشحال بابا د توري،
جنګ جګړو او پښتو ولي باره کښې ذکر کړي - خوشحال
خان بابا هغه شخصیت وو چې په یو وخت شاعر ادیب
او ښکارزن او حکیم وو. د ډېرو مصیبتونو باوجود هم په
خپل عزم قلعه ولاړ وو لکه چې وائي:

نه به زما غونډي بل ننګيالي راشي
نه به زما غونډي بل جنګيالي راشي
څوک لا پر پروده په درست جهان کښې
محب که مې فرهنګيالي راشي

خوشحال بابا د خپل قام د زوال ټولې وجې معلومې

کړي وي او د پښتون قام ئې ژوره مطالعه کړې وه
او د هغو لوخړ بوجه ئې بې اتفاقي کښلي وه او په دې
افسوس والوان وړئي:

ـــ اتفاق په پښتانه کښې پيدا شي
کښې ما به د مغل ګريوان پاره کړ

ـــ چې په خوب کښې په بړزه پر لوزي لکه
چې د چا لر خوګې زما د زړې شرنګ دی

ـــ که په دادوري ګوري هغه زه يم
چې مې داغ په خاطر ايښي د اورنګ دی

ـــ د درست جهان مې د مغل ورته خپيدکړو
ځای په ځای پښتانه ورته قلندري دي.

## 4 د خوشحال خان بابا عشقيه شاعري:-

خوشحال بابا عشقيه شاعري يو جدا مقام لري. د محبوب په مينه او په ښائسته کښې ئې هم خپل لوړ مقام او شخصيت برقرار ساتلي او د پښتو ټولنې رنګ پکښې ځليږي. خوشحال خان بابا ځان يو مثال د عاشق کښې لکه چې وائي:

ـــه په درست جهان به نه وي لوڅا غونډي رسوا يل
ورځ توره وکښلي چې سپين ماوږم په تايل

بل ځای کښې خپله معشوقه په دې الفاظ ستايي:

ـــه تورې يا تورې زلفې کبود خال يکښې کښتره
داسته که چې کوبې پرې بندې لوخه شهباز دې

خوشحال بابا د خپلې وعدې په پر ټکلک سړي دی که د وجود نه يې سر هم بېلېږي لو بيا هم په وعده ټينګ ولاړ وي لکه چې وايي:

ـــه که يې سر درومي له تنه لو ربه نه ځي
د خوشحال چې د خپل يار سره ميثاق دې

خوشحال بابا فکله د محبوب په عشق کښې د وحره لوی مقام ته اورسي چې د خپلې معشوقې مړه جوړ بدل غواړي:

ـــه د ځانه د نورې کار لښته په عشق کښې
معشوقو ته مر نه ځي او سه خوشحاله.

س ۳ حمزه بابا څوک وو؟

حمزه بابا د لوړيې په مقام د ملک مير بازخان کره په کال ۱۹۰۷ء کښې زېږېدلی وو. ينځم پورې تعليم يې خپل کلي کښې حاصل کو بيا اسلاميه کالجيټ کښې داخل شو خو تعليم ته يې چيره و نه لګېده او په نهم جماعت کښې يې تعليم پرېښود. حمزه بابا په ۱۹۲۰ء اردو کښې شاعري کوله بيا د خپل پير

عبدالستار شاه په وینا ئې په اردو کښې تعلیم پر بېنود
شاعري پر بېنوده او پښتو کښې يې شروع کړه. حمزه بابا
صرف شاعر نهٔ وو بلکه یو ډېر ښهٔ ډرامه نګار، ناول نویس،
عالم او نقاد وو. دا اوچت شخصیت په ۱۸ فروري
۱۹۹۴ء کښې د جمعې په ورځ په حق ورسېدو خو ژوندي
په زړونو کښې به د بابائے غزل ترقیامته ژوندي وي:

څه وائي اغیار چې د دوزخ ژبه ده
زهٔ به جنت ته د پښتو سره ځم

د حمزه بابا د شاعرۍ اړخونه:-

1) تصوف
2) پښتونولي
3) اخلاقي شاعري

۱) د حمزه بابا تصوف:-

حمزه بابا یو ټکلی مسلمان وو او د حنفي فقې پیروکار وو. د سلوک په دنیا کښې د وحدت الوجود نظریې قائل وو لکه چې وائي:

څه اوس دي د وجود او نور سیوا چې دي عدم دي
دا څهٔ چې یو نکته ګورو هم هغه دي نور څهٔ نهٔ دي

د وحدت الوجود نظریې باره کښې یو بل ځائے وائي:

څه یا خو صبح لنښته دا وایه وهم و خیال دے
او که وي نو بس د یار دي او دي وجود

یو بل ځائے وائي:-

څه فاو یار د کهٔ منځ منځ کړ یا څهٔ حاصل دي
آئینه به ائینې ته مقابل که

حمزه بابا یو بل ځای وائي:

ﻫ محسوس په حقیقت کښې هم هغه دی لور څه نه دی
په پښتو سترګو ګوره دا چې ګورې دا لیده شي

ډاکټر اقبال نسیم صاحب وائي چې د سلوک او تصوف
په لاره یو سالک د خپل پیر په رهنمائي کښې مخ په
وړاندې روان وي او بیا یو مقام دا سې راشي چې د
سالک نور مخ په وړاندې نشي تلی او هغه ته د نور
ریاضت ضرورت وي لکه چې وائي:

ﻫ وایه رو رو ښکاره کوي وهاته
د کائناتو په زړه کښې راز یو ذره

2 د حمزه بابا کلام کښې پښتونولي:

حمزه بابا یو پښتون مزاجه، پښتون دوسته او
په پښتون قام مئین شاعر دي- هغه د اسلامي
تعلیماتو پابندي عمل کړي دپاره پښتون طبیعت ډیر
موزون ګڼي:

ﻫ ما حمزه له شربي باده خاونده
په ښاغلي پیمانه کښې د افغان را

حمزه بابا عشق او مینه هم په سوال نه شي مجبوروي
مینه خو په فخر کوي لکه چې وائي

ﻫ عشقه ته خو بې بین ئي زه پښتون یمه
وانه ده بنورې ګډا ستر ګو نه

یو بل ځای کښې حمزه بابا پښتونو د سما دښمنه
خلقو ته جواب ورکوي چې:

ﻫ وائي اغیار چې د دوزخ ژبه ده
زه به جنت ته د پښتو سره ځم

حمزه بابا په پښتو دومره مئین دی چې د سعودي
عرب په سفر هم د پښتنو په قافله کښې تلل غواړي

ـه حمزه سفر که د حجاز وي نو هم
زه د پښتون د قافلو سره ځم

3 د حمزه بابا اخلاقي شاعري:

حمزه بابا که هر څو په خپله شاعرۍ کښې د عشق و محبت، تصوف او سلوک او پښتونولۍ موضوع چېړلې دي خو اخلاقي او اصلاحي شاعري ئې هم خاصه په کمال کړې ده لکه یو ځائې کښې ئې د رسمونو رواجونو پر پښودو درس ورکړی:

ـه ولې په سیند کښې د نخرونو ډوبېدل غواړې ته
د رسم و رواج پر پښوده که بیا او جنید ل غواړې ته

یو بل ځائې کښې حمزه بابا د اونګار شیا ژوند په مرکز حسابوي او د محنت او مشقت درس په دې پېراو ورکوي:

ـه سبق زده کړه د استاذه له فطرت
د عالم د نظام ژوند دے کفایت
کفایت کښې نه اضطراو نه تفریط شته
په اوسط کښې شته کمي نه زیادت

حمزه بابا د پښتون قام ته د اتفاق درس ورکوي او د بې ~~اتفاقا~~ اتفاقۍ نه ئې منع کوي. لکه چې په یو موقع حمزه بابا د اتفاق برکت داسې ~~حسابوي~~ ثابتوي:

ـه چې له ابره سره مل شي بېخ بادونه باران راشي
اتفاق په اسمان را شي په زمین ئې برکت شي

ـه بېلې لارې دغه صوفي دغه منزل ته رسي

اتفاق ورله روح دې ژوند که نوم د حرکت دی.

* ——— * ——— *

## د رحمان بابا ابتدائي ژوند:-

رحمان بابا د پښتو د ټولو نه زیات مقبول شاعر دی کوم چې ۱۰۴۲ هـ کښې په بهادر کلي پېښور کښې پیدا شوی وو - د رحمان بابا ذاتي ژوند باره کښې مونږ سره څه ښکاره معلومات نشته - رحمان بابا په کال ۱۱۱۸ هـ کښې وفات شوی وو او په هزار خوانی کښې دفن دی

## د رحمان بابا د شاعرۍ اړخونه:-

د رحمان بابا د شاعرۍ درې اړخونه دي.

1) د رحمان بابا صوفیانه شاعري

2) اخلاقي شاعري

3) عشقیه شاعري

## 1) د رحمان بابا صوفیانه شاعري:-

د رحمان بابا په کلام کښې صوفیانه رنګ د هر څه نه زیات ښکاري - بو د پښتو صوفي او حقیقي عاشق دی. د بابا د اصل صوفیانه کلام نه داسې ښکي چې دا د اسلامي فلسفې د میدان یو لوی فلسفي دی. په ظاهر خو دا نه ښکاري چې رحمان بابا دې صوفي مرید دی خو په طریقت ئې ده چشتیه طریقې لاس نیوه کړی وو. دا ځې چې اوس د رحمان بابا یو سو صوفیانه شعرونه وړاندې کو:

ـه رحمان حسن د یار وینې په پرده کښې

ئې پټې [illegible] د شمعې په څانګو

یو بل ځای وائي:

ــ دا حجاب چې نور عالم ئې حجاب بولي
دا نما او یار ترمیانه حجاب نه دے

ــ زه پخپله پیتا نه یم مئین شوې
ستا له لورې په ما شوې ده ندا

ــ چې دا حسن معرفت ئې میرې پېرزو که
په رحمان باندې منت د پاک مولا دے

## ٢ د رحمان بابا اخلاقي شاعري:

اخلاقي شاعري هر شاعر څه حد پورې چیړلې ده خو چې رحمان بابا د اخلاقیاتو موضوع څومره چېړلې ده دومره بل چا نده چیړلې - د رحمان بابا شاعري د نصیحتونو ډکه ده - د بابا شاعري اکثر متلونه ګرځیدلې دي - د بابا اخلاقي شاعري د انسان د عملي فکر ډیرو اهمو اړخونو سره تعلق لري راځئ چې خوند تري واخلو:

ــ بې عمل که کتاب کېږدي په سر څه شو
ګویا اېښې ئې ترپښو لاندې کتاب دے

رحمان بابا د هغه علم په حق کې نه دي چې کوم سره عمل نه وي لکه چې وائي

ــ علم وکړې هیڅ عمل ورباندې نه کړې
لکه طفل هسې وي په کتاب ګرځې

د حرام نه سخت خلاف دي لکه چې وائي

ــ ماته ملا په مشقت په محنت ښه ده
نه حرامه همیانۍ د چا ترملا